AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد ایاز نوری
۲۰۲۶/۰۱/۳۰

# د اعلیحضرت امان الله خان د یواځني لا ژوندي یادګار سره

ساعت د ترکیې په وخت لس دقیقې کم اته بجې د ماسختن بنودلې. د دغه درانه شخصیت زمونږ د ګران لوی غازي اعلیحضرت امان الله خان (رح) د وروستي اولاد، والاحضرت پاچا لور دوکتور ناجیه (د افغانستان) هستوګنځي مقیم د استانبول ښار ته مې فون وکړ. مقابل طرف یوه ښځینه آواز ؤ، خو ما درک کړه، چې دا اماني پاچا لور نه ده. هغې پس له سلامه ما سره په ترکي ژبه لګیا سوله. ما ورسره په انګرېزي ژبه روغبر وکړ، مګر هغې خپلې ترکي ژبې ته دوام ورکړ... . کله، چې ما ورته د پاچا لور نوم واخیست، چې کور کې تشریف لري او کنه، ښځې وویل: صبر وکړه. د نیکه مرغه دوهم غږ پخپله د ناجیه بي بي ؤ. ما په بیره ځان ورته معرفي کړلو. جنابې په خاص صمیمیت او افغاني مینې ما سره ستړې مشې وکړله. ما د پاچا لور د شخصي احوال او روغتیا پوښتنه وکړله، وې ویل: "نوري جانه، زه ښه یم، صحت مې هم ښه ده، زوی او لور مې محمد عمر او حمیرا هم ښه دي او خپل نارمل ژوند کوي. دلته ما سره معرفي افغانان مې زما احوال اخلي، ځوک دلته راته راځي، ځوک راته فون کوي، او زه بیا ډېره خوشالیږم. زه نوره د خوراک میز ته تلم، چې ستاسو فون راغلو." ما عرض وکړ، دغه ښځه ځوک وه؟ په نسبتاً اورده خندا یې وفرمایېل: "دا ښځه زما په کور کې، زما د پخلنځي او نورو چارو موظفه ده. هغه یوه تُرکه ده او د ناصر ضیاء فامیل ماته معرفي کړې او زما خدمت ته یې دلته رالیږلې... انګرېزي نسې غږېدلای... زه ورته د میاشتې درې زره لیرې، چې دا زما د تقاعدي تنخوا ده، ورته یې ورکوم... لنده خندا... .

ترکیه کې په عمومي صورت سره ژوند ګران ده او د ژوند توکي او وسایل قیمت دي. د وطن افغانستان په سیاسي او اقتصادي حالاتو خبرېږم او ورته خواشیني یم. جنګ اوس نشته اما نور د خلکو ژوند په تکلیف کې ورته تېرېږي، خیر سرې باید تل هیله مند وي او مقاومت له لاسه ورنکړي. زه اوس د خپلې کورنۍ یواځنی ژوندی کس یم، چې لا په دې دنیا ژوند کوم، نور د کور غړي ولاړل."

ما اماني والاحضرت ته عرض وکړ، بلی... شکر ده، چې تاسو لا د اماني یادګار په صفت راته ژوندي یاست.۹۵ (پاچا لور متولد د جون ۱۹۳۰ز) کاله عُمر هم د الله (ج) یوه پېرزوینه او فیصله ده، چې تاسو اوس ورته رسېدلي یاست. هو، ګران هیواد افغانستان کې اوس جنګ جګړه نه شته، اما سیاسي ستونځه لا موجوده ده، ملت لا متفرق ده او مونږ باید یو ملي حکومت او دولت ولرو. زه تاسو جنابې ته بیا مکرر عرض کوم، چې له غله حبیب الله بچه سقا څخه نیولي تر ننې امیر د افغانستان پورې، هیڅ کوم یې، ستاسو د غازي او خدمتګار پلار اعلیحضرت امان الله خان ځای او تشه مونږ د افغان ملت ته راته ډکه نسوای کړای.

پاچا لور وفرمائیل: "کاش، کاش زما بابه جان د خپل ژوند تر پایه [۱۳۳۹ل] د افغانستان پاچا پاته سوی وای، نن به تاسو د افغان ولس په داسې سیاسي او اقتصادي مصیبتونو کې نه را ګیر کېدلای... اما افسوس."


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پاړوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ما عرض وکړ، بلې، ستاسو تحلیل دقیق ده. د درنې پاچا لور د سن په نظر کې نیولو، زما په وړاندیز د خبرو ختم او په خاصه مینه او مهرباني مو خدای په اماني وکړله.



محمد اياز نوری          پاچا لور دوکتور ناجیه







والاحضرت ناجیه: هغه افغاني اناث، چې اعلیحضرت امان الله خان نومبر د ۱۹۲۸ز د طبي زده کړو لپاره ترکیې ته رالیږلې وې، د دغه سور بیرغ شې ته ساختمان کې اوسېدلې.

ختم

مطالب نشر شده از **محمد ایـاز نـوری** در پورتال افغان جرمن آنلاین


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ